بســـــم الله الرحـــــــــیم

# د ډیورنډ لاین لانجې د حل دعالی شورا اعلامیه

# اعلامیه شـــــــورایعالي حل معضلهٔ دیورند لاین

د ډیورنډ کرښه هیڅکله هم د منلو نه ده!

(د افغانستان د ولسمشرښاغلي حامدکرزی د۲۰۱۳/۴/۴ ملي تصمیم په تړاو)

دافغانستان خلکو له څو لسیزو راهیسي په پوره متانت، ایمانداری راز راز کړاوونه، مرګ او ژوبله زغملي خو هیڅکله دې ته نه دې حاضر شوي چې د هیواد ځمکنی بشپړتیا او ملي ارزښتونو سره خیانت وکړي. باید هیره نه کړو چې افغانستان د خپلو سترو مخورو او مشرانو له ویاړنو سره سره داسي شیبي هم درلودلي دي چې یو شمیر واکمنانو، امیرانو او د پردو په لاس او اوړوقدرت ته رسیدلو حاکمانو او تالي څڼود خپل بقاء او د دنیایی مال او ملک دلاس ته راوړلو او د هغو دکرغیړنو اهدافو لپاره ځانونه پلورلي دي.

دې حاکمانو د پردو تر فزیکی پوځي او سخت رواني فشار او تهدید لاندې، د افغانستان په مختلفو اړخو د وقت د استعمار په لاس د جوړ شوو بغاوتونو او قیامونو د تهدیدلاندې، ددی ملت د زړه آواز او عزت ته په ټیټه سترګه کتلي او د افغان ملت او خاورې په حق یې داسي ناروا وی او ظلمونه کړي، چې یوشمیر یې د لږ وخت په تیریدو خپله هم پرې پښیمانه شوي چې ښه مثال یې د شاه شجاع اویوشمیرنورو ګواډګیانو په وخت کې، بهرني یرغلونه دي.

شاه شجاع تر سخت فزیکی او روانی فشار لاندی له ۱۱ کلونو زیاتي مودې تبعید نه وروسته، د امیردوست محمد خان او امیر شیرعلی خان د غمجن برخلیک په خبرتیا سره، د وخت د استعماري انګلیس په مستقیم تهدید، د سرتیمار دیورند هغه سند چې دهغه په نتیجه کې د افغانستان یو ستره برخه د افغانستان نه د کاغذ پر مخ جلا شوه او بیا يې په (۱۸۸۳/۱۱/۱۲ ز) نیټه یواځي په انګلیسي ژبه او په ډیرو مواردوکې مجهول سند او تفاهم لیک لاسلیک کړ. ددې تفاهم لیک په نتیجه کې امیر ته د ټاکلو مالیي امتیازاتو او وعدو په مقابل کې د « ډیورند لاین» شرقي خوا سیمې عملاً د افغانستان له قبضې وویستل شوه خو هغه مهال هم دا سیمې د برتانوي هند جز ونه ګڼل شوې. ددې توافقاتو پربنسټ افغانی لوري ته حق ورکول شوی وو که دې سیموکې پوځې عملیات کوي نو انګلیسي لوري ته به خبر ورکوي او انګلیسی لورې به هم باید همداسي وکړي. همدارګه وپتیل شوه چې د دواړو خواو یو پلاوی باید تعیین شي چې (۱۸۹۳ ز کال نه تر ۱۸۹۷ز) کال پورې په درې کلونو کې« ډیورند لاین» پرکاغذ په نښه کړي. خو دا کار تر آخره په پوره ډول عملی نه شو او امیرپه یقیني


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

ډول په دریوموارډو کي اعتراض کړی او ویلي یي وو چې دا هغه نقشه نه وه چې سرتیمار دیورند ورته ښودلي وه.

همدا راز د اتفاهم لیک د نیمګړي او نابشپړ پروسیجر، تهدید، مجهول والی په لامل هم د فسخی وړ او عملاً ملت نه دی منلې. حتی دهغه نوم یواځې د ډیورند په نام نومول شوی دی. په حقوقي لحاظ او د بین الدول دقرارډادونو او پرسیجرونو په اساس دا او دې ته ورته نورې نیمګړتیا او خلاوې هغه څه دي چې دې تفاهم لیک ته د پای ټکی ږدي.

همدارنګه په ۱۳۳۴ لیږدیز کال د افغانستان په اومه شوارکي د ډیورنډ تفاهم لیک له دریو نورو تفاهم لیکونو سره یوځای، فسخ اعلان شوی دی.

په تیرو څلورو لسیزو کې پاکستان ونه کړای شول د ډیورنډ استعماري او تپلي کرښې ته د پېژندلو وجه ورکړې او د اړو افغانانو له مجبوریت څخه د هغې د پیژندلو لپاره ګټه پورته کړي.

مونږ په دې شک او تردید چې د وخت حاکمان د پاکستانی سترو فتنو او دسایسو ښکار نه شي او یا داسې ونه شي چې دوی د پاکستان (دیفکتو) او د حقوقي لحاظه منسوخ (دی یوره ) ته غاړې کښیږدي.

خو په ډیره خوښي سره مود افغانستان ډیرو حاکمانو او دهغه په جمله کې د افغانستان داسلامی جمهوریت ولسمشر ښاغلی حامد کرزی د ۲۰۱۳/۰۴/۰۴ نیټې با شهامته اعلان واورید چې هلته په ښکاره توګه ویل کیږي چې افغان دولت د ډیورنډ استعماري کرښه نه مني.

مونږ ددې باشهامته، څرګند او روښانه دریځ څخه په ټینګه ملاتړکوو.

ــ تر کومه ځایه چې د « دیورنډلاین »لانجې د حل عالي شورا پورې اړه لري، دا شورا د ډیورنډ کرښه یوه ملي داعیه بولي چې دهیڅ یو ګروپ، سازمان، قوم ، د لر او یا بر افغانستان انحصاری مسأله نه ده، بلکی هغه په ټول افغانستان پورې تړلې ده.

مونږ دې لار کې د ټولو بادرده افغانانو د هلو ځلو د هماهنګی او همغږې لپاره په سړه سینه کارکوو.

ډیورنډ لاین لانجې د حل عالي شورا د پنجابي غلیم د هر ډول چلوټې او تیري په وړاندې کلک او ټینګ دریځ لري او په دې لار کې به خپلې هلې ځلې له پخوا نورې هم چټکې کړي.

په درنښت

*Your Sincerely,*

***Ph.S.Z.Sh.(Sadat)***
*Chairman of Anti Durand Line Organisation & Speaker of High Council of Durand Line conflict resolution*

*London, England*


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.